مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندۀ مضمون میباشد، عقیدۀ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

خالق رشید ۲۰۱۹/۱۲/۲۵

# د غــــنم رنګي امريکايي نجــلـــۍ

## نا روغــــه پـــــــاپي!؟

لنډه کيسه

ماخوتاسي ته ډيرپخوا ويلي وو چې الف خان ماما نه خپلې ميرمني اونه هم خپلي لوراني امريکا ته بيولي ، چا به چې پوښتنه تري وکړه دده ځواب به ورته دا و: - چې خرابيږي ...
زموږ کليوال خو په پيل کي دده ددغي خبرې پرباريکی نه پوهيدل، چې څنګه خرابيږي ... خو وروسته يوشميرپه دغه ټکي پوه شول چې هلته خو آزادي ده ، هرڅوک دخپل ځآن پاچا دی، څوک دي چا پروا نه لري، هلته نه قوم شته ، نه کلي ، نه پيغورشته اوپيغمبر، هلته نراوښځه دواړه مساوي دي،هلته څوک ښځي ته کډه او تورسري نه شي ويلای، بس نوم او کمال ته به يي ګوري، ښه چلند به ورسره کوئ اوکه تيره زياته دي ورسره وکړه، نوبيا دالکو کاکا خبره دقانون په زور دسړي خوله تر... ورڅيروي.څکه خوماماخيل زامن ترمخ کړل،هغوی يې امريکا ته بوتلل، هلته امريکايي شول ،خو لورانواوميرمنو به يي بس يوازي د دوی د سردعاوې کولې ...
- په مخه يي ښه ، خدای يی دې په خير راولي... زموږ نارينه ټول په امريکا کي غريبي کوي ... اوهلته ته مساپردي:

### مساپري سخته خواري ده ...
### باران به اوري څوک به ځای نه ورکوينه...!

دماما دکورميرمنوبه د خپلو نارينه په اړه همداسي فکرکاوه لکه زموږ باباګانوبه چې په هندوستان کې د ورکو برساتيانود ستونزواوخواريوخبرې کولي ...په داسي حال کي چې خبره داسي نه وه ، دماما يوه زوی کولمبيايی نجل درلوده، هغي به کارکاوه دي پرهغي ټپ و، کاريي کله کله کاوه... له ماما سره يوځای نه اوسيده، اونه پرې خبريده، کله به يي چې زړه درد وکړنوهغه دکليوالو خبره به يي دخپلو زامنو په باب هرچا ته يادوله چې : دخرې کوتي پيداشو، چامبارکي ورکړه ، دې ورته وويل چې :
- دي به خپل باروري اوزه خپل ...
په هغوکالوکي چې په وطن کي د سريتوب سخته وچکالي وه ، آب نه و،غرت نه و، جنګونو ککرې خوړې، وسلوځوانيمرګی لوروليِ ، دسريتوب خبره د نجيب الله له مرګ سره تښتيدلي وه... په اوړي کي دماما زوی له خپلي نجل سره وطن ته راغی ،خپله غنم رنګي ملګرې اودهغي امريکايي پاپي به يي هري ميلمستيا ته له ځان سره بيول، هرچا ته به يي ويل چې دوی ميره او ميرمن دي، دکوربڅمنوهم کليوالونجونواوښځمنوته په رښتيا دروغ دا ويل چې دوی ميره اوښځه دي،واده يي کړی اوان چې مسلمانه کړې يي هم ده ...خو دهغو په کړو وړو کي نه دمسلماني څه ښکاريدل اونه هم د واده کومه نښه نښانه چا ورسره ليده ... لږترلږه وخت ناوخته چا په لمانځه هم ونه ليدل خو دماما دجهاد دشپوورځوشرمونکي خاطرې اوکيسې به يي دتوتي په شان په خولوکي وی ...
امريکايي نجلی دماما ترزوي دخپل پاپی ډيرخيال ساته، تولو ورځ به له هغه سره بوخته وه اودهغه طبعه به يي خوشاله ساتله، هغه يوازې پاپي نه و،هغه ځانته ځای اوځانته نوم درلود،شايني ...هو، شايني ...هغه هم دماما د زوی د خارجي غنم رنګې ميرمنې !!؟
شايني ، شايني زموږ په کلي کي دهرچا په خولوکي ولويد، هرچا به نازاوه ، خو لاس چا نه ور ووړ، په داسي حال کي چې دهغه هيله به له هرچا همداوه چې پرده باندې لاس راتيرکړي، اوهلو... هلو ورته ووايي... دملوک ماماد ميرمني هم شايني خوښيده هغي هلوهلووينه يي ورته زده کړه دهغي به ترخوله هلونه وه راوتلي چې ده به بيا ځان دهغي غيږې ته ور واچاوه اوهغه به يي هم په چغو سرکړه ...



افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکني د ليکنيزې بني پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکي په خير و لولـئ

ـ دخدای له پاره... دابدغونی مو درنیسئ ، دا ډیربد ورګه اوشله دی ... خپل قدرپه زور په خلکو زیاتوي ...
دغنم رنګي امریکایی پاپي ډیرنازولی و، دماما پر زوی هم ګران و، خو له یوه شي چي دده له پاره لوی غم و، هغه داوچي زموږ دکلیو له سپیویي زړګی خوږین خوږین و... زموږ دکلی لنډه غرسپي خو تاسو ته درمعلوم وو، چي اوریي په ژبه لاړه، کله به چي دماما د زوی د خپلي نجل له پاپي پریوه خوا شو، هغوبیا ترلکی نیولی واو داسي به یي سره ومروړه چي یوه دوی ورځي به هغي خوارکی ده ته مبنود ( مالش ) ورکاوه اوکله کله خو به له ډیره درده ورته په ژړا شوه :
ـ تا ته چا ویلي وو چي دلته راشه ... تا ته ددي وطن لنډغرسپي نه دي معلوم چي دسپیونوم یي دڅمکي پرمخ شرمولی دی ...؟ راشه ... زما غیرېږ ته ... زما زړه ته ... ځومره لویه قرباني دي ورکړه چي دلته راغلي اودلته دي هم ځوک په سپیو کي سپی هم نه بولي ... ته ځومره ښکلی یي ، ځومره ښایسته پکه ککره... ای ګلالیه پاپي... ای ډنګره ګلالیه ... ته ځومره پوه او هوښیاریي ، خو دریغه چي ستا په قدرځوک نه پوهیږي ... !؟
غنم رنګي امریکایی په رښتیا هم پرشاینی باندې زړه بایللی و، ډیر ورباندې ګران و، دماما زوی به ترې ووت، خودا به دلویی کلا په منځ کي ورسره ناسته وه، ځکه چي ددې نازولي پاپي ته اوس زموږ دکلي لنډغرسپي لوی خطرول او له هغو ښځه، دهغو له بلوسیدوځخه سخته ډاریده ...
له هغي ورځي چي یو دوه ځلي زموږ دکلي سپي پرې وربلوسیدلی وو، اویوه خو یوځل ښه داړلی هم و، له هغه وروسته یي حالت هم بدل شوی و... داسي ښکاریده چي څه روغتیایی ستونزه هم له هغه وروسته ورته پیداشوه ....
زموږ حاجي کاکا خوهم دسپیو په مزاج ان له ځوانی ځخه پوهیده... هغه به تل ورته ویل چي که غواړي پاپي بیرته ترامریکا روغ ورسوئ ، بس له کوره یي مه باسه، چا ته یي مه ورښیاست، ځکه چي دلته یوازې لوی الله په یوه حال دی، زموږ دکلي سپي خوروړي دي، وړي دي، لیوني دي اوسربدحاله ... دوی ته داډنګر منګرپاپیان نه شي تینګیدای ... درخرابوي یي اوس هم جوړ نه دي ، ځومره چي زرکیږي نورک کاږئ اودرسره یي په مخه کړئ ...
لایي یوه میاشت نه وه پوره چي دماما زوی اونجل یي له خپل پاپی سره ترنوي کال یوه ورځ دمخه دکلیفورنیا په هوایي ډګرکي ښکته شول، کله یي شاینی له ځانګړي ځایه راویوست، ډیرستړی ښکاریده، دهوایی ډګر دپولیسو سپیو هم دهرکلي په ځای ځانونه ترې تولول... او لرې لرې ترې تلل ، غنم رنګي نجلي چي په ویاړتریږي یي نیولی و، لایي سم پام ورته نه و، چي دهغه له خولي لاړې اوځګونه راتلل، دهوایی ډګردخاردخلکو چي په هغوکي سپي پوهان هم ول ورته پام شو، ورته ویې ویل چي پاپي موناجوړه دی تاسي ولي نا روغه پاپي له ځان سره امریکا ته راوړی دی ؟ ، وترنران یي ورته راوغوښتل ځوهغه وګوري ، چي کومه خطرناکه ناروغي خوبه یي له ځان سره نه وي را وړي چي دلته د دوی نور سپي ونه نیسي ...
غنم رنګي نجلي چي دستریا له خوبه رنګه بنګه کیده دهغه په اړه اړونده کسانو ته دده پیژندنه په لنډه توګه وکړه ، اړوندو کسانو فکرکاوه چي دوی شاینی له افغانستانه راوستلی دی ، خوهغوی بیا ورته ویل چي نه دوی شاینی له ځان سره هلته بیولی و، هغه سم دم امریکایی دی... له هغه ځایه مونه دی راوستلي ... خو دهوایی ډګرخاروالو د دوی خبره نه منله چي ګواکي د دوی نازولی پاپي په رښتیاهم امریکایی وي ... خو دوی پرهمدې ټینګارکاوه چي سم دم امریکایی دی... ؟
د دوی خبره لوی کش اوکړپ ته ورسیده، پولیسانو هم ځانونه ورګډ کړل، ځوچي پایله داشوه چي که رښتیا دوی له ځان سره افغانستان ته بیولی وي،باید اسناد یي اړوند اداري ته وروښیی، ځکه دسپیوډاکترانو ورته ویل چي دا ناروغه دی، او دا ناروغي یي هم له هغه ځایه له ځان سره راوړې ده ...
هغوی اجازه ورنه کړه، چي شاینی له ځان سره کورته بوزي ،هغه که هرځومره ترپکي وکړې خو چایي پروا ونه کړه ... یوچا خو دا هم ورته ویلي وو چي کیدای شي بیرته یي افغانستان ته واستوو... اوکیدای شي تاسي هم خپل ځواب محکمي ته ووایاست ... ځکه تاسي ځنګه ناروغ سپي، هغه هم له افغانستانه امریکا ته راوړی ؟
دماما زوی اوغنم رنګي امریکایی نجل یي بی له شاینی له هوایي ډګره راووتل، هغوی ته پته وه چي هغه زموږ دکلي دلنډه غرو سپیو بدغوني نا روغي له ځان سره امریکا ته وړې وه ، دوی نه یوازې داچي بیا یي دهغه پوښتنه ونه کړه بلکه په ډېر ویره کي وو چي دهغه په ګناه دوی په اوږد مدتي زندان کي دهغه په شان لیونیان نه شي ... ځکه دوی په محکمه کي له دغي پوښتني په رښتیا هم ډاریدل چي :
ـ تاسي ځنګه ناروغ سپي، هغه هم دنوي کال په دغو ښو ورځوکي
له افغانستانه امریکا ته راوړی؟

نوي ډیلی
د شل نولس کال ۲۵


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزي بنې پاړوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکي په ځیر و لولئ